نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۳/۰۸/۳۱

# د پښتنو وفا او د تورن اسماعیل خان په خپل ځان ناخبري

ملا عبدالحی مطمئن چې په کندهار کې د اطلاعاتو کلتور رئیس او د افغانستان د اسلامي امارت ویاند وو، په خپلو خاطرو کې یې د مشر ملاصاحب (ملامحمد عمر آخند) او تورن اسماعیل خان خاطره هم ثبت کړی ده.
هغه ویل چې کله تورن اسماعیل خان د طالبانو سره په کندهار کې بندي وو، زه د مرکي له پاره ورغلم او مرکه مې ورسره وکړه، د مرکي په پای کې مې پوښتنه ورځخه وکړه چې که تاسي کومه خاطره لرئ؟
تورن اسماعیل خان وویل چې کله د روسانو او د هغوی له پلویانو سره جهاد پیل شو، زه هم د جهاد له پاره له کورځخه ووتلم او ترشپږو کلونو پوري په غرونو کې پاتي شوم او بیرته کورته رانه غلم، شپږکاله وروسته چې کله کورته پر تګ وتوانېدم، کله چې کورته ورنږدي شوم، یوه ماشوم زما مخته منډي راوهلې او لږ وروسته هغه شپږ کلن ماشوم زما په مخکي د کورنۍ دغړو سره یوځای ولاړ وو، چې ما نه وولیدلی، او دلومړي ځل له پاره مې په خپل مخکې له میرمني سره ولیدی، دا زما ځوی وو، چې جهاد ته زما له تګ څخه لږ موده وروسته پیداشوی وو.
ملاعبدالحی مطمئن وایې چې کله مې دتورن اسماعیل خان دغه له درده ډکه خاطره مشر ملاصاحب ته دهغه د کار په دفترکې وویله دمشرملاصاحب په سترګه کې ډنډ اوښکي راغلي، په غور سره یې دتورن صاحب خاطره واوریدله او بیا یې د خپلي سترګې او ښکي پاکې کړي.
ددغه ډول دردناکو خاطرو په اوریدو د هرمسلمان په سترګو کې اوښکي راځي، او تورن اسماعیل خان به هم دغه خاطره ځکه ورته ویلي وي ، چې موږ مجاهدینو له روسانو سره سپیڅلي جهاد وکړ، قرباني مو ورکړي، تکلیفونه او زحمتونه مو وګالل، خو دهغو زحمتونو نتیجه داشوه چې نن زه د مسلمانانو په بندکې شپې او ورځې تیروم.
د مشر ملاصاحب له سترګې به ځکه اوښکي راتوی شوي وي، چې هغه تورن اسماعیل خان چې د جهاد دوخت مشهور قومندان وو، په زرګونو مجاهدینو دده ترقومانده لاندي جهاد کړی دی، ډیر زیات تکلیفونه او زحمتونه یې ګاللي دي، د ژمي سړې او د دوبي ګرمي ورځي یې په غرونو او سنګر کې تیري کړي دي، د خپلي کورنۍ څخه لیري یې د الله عزوجل د رضا له پاره د روسانواو د هغوي د پلویانو پرضد جګړه کړي ده، خو له دغو ټولو ښیګړو سره سره، دجهاد ترکامیابیدو وروسته تورن اسماعیل خان مسلمانان ووژل، د واک او قدرت په خاطر یې خپل د جهاد او سنګر ملګري شهیدان کړل، او ځیني یې د قومي تعصب له امله ووژل، دهغوي بچیان یې یتیمان او دهغوي میرمني یې کونډې کړي.
دمشرملاصاحب به داهم په ذهن کې ورګرځیدلي وي چې د پرون ورځې دغه مجاهد نن زما ډیر مسلمان طالبان په فراه،ګرشک او دهلمنداو فراه په دښتونو کې په دي ګناه له منځه یوړل چې هغوي ددوی د جرمونو، وژنو، بې ګناه خلګو نیولو، او په ټوله کې ددوی له واک او منګولو څخه د مظلوم افغان ولس خلاصول غوښتل.
هو د پرون ورځې زړور او پیاوړي د جهاد قومندان، د روسانو او دهغوی دپلویانو قاتل، دمسلمانانو د عزت او عفت ساتونکي مجاهد تورن اسماعیل خان مې ژړوي، خو دنن ورځې مجرم، دمسلمانانو قاتل، په ژبني او قوم تعصب لتاړ اسماعیل خان مي هڅوي چې په بند کې یې وساتم او مسلمانان دده له شر او فتني څخه خلاص کړم.
زموږ د کلي حاجي عبدل به هره شپه د شپې په نیمایې کې له خواږه خوب څخه راپورته او دشپې به یې دوه رکعته تهجد لمونځ وکی، د لمانځه ثواب به یې تورن اسماعیل خان ته وباخښی، او په نیمه شپه کې به یې په ډیر عجز سره دوه لاسونه پورته کړل او الله عزوجل ته به یې زارۍ کولي چې تورن اسماعیل خان دي خدای تعالی د طالبانو له بند څخه خلاص کړي، داهغه وخت وو، چې کله تورن اسماعیل خان د طالبانو سره په کندهار کې بندي وو.
حاجي عبدل، تورن اسماعیل خان نه لیدلی وو، او نه یې هم له هغه سره د تجارت او یا بل کاروبار اړیکي درلودلی، یو ساده او خړ پښتون وو، د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي په کوم کلي کې اوسیدی، یواځي یې د جهاد په وخت کې د تورن صاحب د میړاني او له روسانو اودهغوی له پلویانو سره دجهاد کولو کیسي اوریدلي وي، حاجي عبدل په تنظیمي لحاظ هم د تورن صاحب د ګوند غړی نه وو، له حزب اسلامي سره یې اړیکي درلودلي او تورن صاحب له جمعیت اسلامي سره، چې دواړو ګوندونو په مختلفو وختونو کې سختي جګړې یو له بل سره کړي، او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همهغه د جهاد په وخت او بیا وروسته وختونو کې د جنګونو نتیجه ده چې اوسمهال هم حزب اسلامي او جمعیت اسلامي یو بل ته په کمین کې ناست دي، او یو دبل ورکه غواړي.
ما دلومړي ځل له پاره په پېښور کې په یوه کور کې چې د جمعیت اسلامي ګوند غړي وو د تورن اسماعیل خان عکس ولیدی، په سر یې توردستمال چې سپیني لیکي پکې وي تړلی وو، اوږده ژیره او مخ یې نوراني وو. د کوربه کورنۍ غړي چې هغوی هم په خټه پښتانه وو د تورن اسماعیل خان ډېر زیات صفتونه کول او هغه ته یې د جهاد د یولاربنود په توګه کتل.
کله چې افغانستان له روسانو او دهغوي له پلویانو څخه ازاد او مجاهدینو حکومت ونیوی، لومړی ولایت چې هلته ډېر چوراوچپاول ونه شو، هرات ګڼل کیدی، او هرات د تورن اسماعیل خان له خوا څخه اداره کیدی، په هغه وخت کې چې هرځای د مجاهدینو خپلمنځي جنګونه او جګړي رواني وي، تورن صاحب وتوانید چې په هرات کې ځینې رغنیز او پرمختیایې کارونه وکړي، تر ډیره وخته یې خپل د جهاد د وخت حیثیت او وقار وساتی.
تورن اسماعیل خان په جنوب حوزه کې د هرچا په زړه کې ځای درلود او خلکو احترام ورته درلود، دا ټول د ده د جهاد او په جهاد کې د قربانیو له برکته وو، داسي معلومیږي چې د جهاد په وختونو کې تورن صاحب د اوس په ډول ژبنی او قومي تعصب نه درلود، او کله چې مجاهدین کامیاب شول، کمونسټ پلوه حکومت سقوط وکړ، د استاد رباني د حکومت په لومړیو وختونو کې هم داسي فکر کیدی چې تورن صاحب دغه ناسم او ناروا تعصب نه کاوو، خو د استاد رباني د حکومت په وروستیو کې تورن صاحب ځیني پښتانه مشران په مرموز ډول سره ووژل او ځیني یې له هرات څخه بهر ته په وتلو مجبور کړل، هڅه یې کوله چې په هرات کې د پښتنو د واک او قدرت لاسونه لنډ او پېژندل شوي پښتانه له مخي څخه لیري کړي.
د طالبانو سره تورن اسماعیل سختي جګړي وکړي، یوځل داسي هم وشول چې د تورن اسماعیل خان پوځونو چې د جنګ د لومړۍ کرښي مشري یې بیا هم دکندهارقومندانانو کوله فراه ونیوله او د هلمند ولایت دمهم او ستراتیژک ښار ګرشک ته راورسیدل، ګنګوسي او اوازي داسي وي چې تورن اسماعیل خان به ډیر ژر کندهار چې د طالبانو مرکز وو ونیسي، خو یو ناڅاپه هر څه بدل او د تورن صاحب پوځ د ګرښک ښار لا بشپړ تر خپلي ولکي لاندي نه وو راوستلی چې دغه نامنظم او په درنو وسلو او ټانکو سمبال پوځ ماتي وخوړه، طالبانو تیت او پرک پاشلي پوځ تر هرات پوري تعیقیب کړ او ډیره زیاته مرګ ژوبله یې وکړه، چې ددغي جګړي اصلي قربانیان دواړو خواوو ته د کندهار او هلمند پښتانه ګڼل کیدل.
جنرال مالک چې کله یې دعبدالرشیددوستم سره د واک او قدرت پر سر اختلافات پیدا شول، له طالبانو سره یې اړیکي ونیولي او طالبان چې دغه وخت یې پرکابل او د شمال پر ځینو سیمو کنټرول درلود د مزارشریف د نیولو او شمال نورو ولایتونو تر کنټرول لاندي کولو د پاره خپلي هلي ځلي اوهڅي کولي.
جنرال مالک په چل او فریب تورن اسماعیل خان شمال ته وغوښت، او طالبانو ته یې لاس تړلی د حسن نیت او د طالبانو له خوا پر ده د اعتماد ترلاسه کولو په خاطر وسپاره.
د جنرال مالک په غوښتنه او دطالبانو د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر ملامحمد غوث اخند د موافقي له مخي د طالبانو پوځونه شمال ته داخل، او تر ټولو زیات طالبان مزارشریف ته ننوتل، چې ډیر ژر د جنرال مالک لخوا څخه په خورا مکرانه ډول سره د طالبانو نیول او له منځه وړل پیل شول، او د ځو ورځو په دننه کې په زرګونو طالبان د جنرال مالک له خوا څخه په شهادت ورسیدل.
تورن اسماعیل خان بیا هم یوه پښتون هلک حکمت الله د براسو ځوی چې دهلمند اوسیدونکي وو له دي امله د طالبانوله بندڅخه دده د پهري پرمهال وتښتاوو چې پخوانی مجاهد وو، او دحکمت الله پلار د مجاهدینو په لومړیو وختو او بیا تر اخره د مجاهدینو په منځونو کې له دي امله زیات محبوب وو چې هغه یو تکړه موټر چلوونکي وو، اوپه سختو لارو او ځایونو کې به مجاهدینو ده ته سترګي اړولي ترڅو یې په موټر چلولو کې مرسته وکړي.
د حکمت الله پلار چې د مجاهدینو د وخت د دښتونو، ریګو او غرونو تکړه موټر چلوونکي وو، او د هلمند، کندهار او نیمرو په ریګو، او دښتونو کې ښه بلد وو، دهمدغه مهارت له امله وتوانېدی چې په لږ وخت او له خطره خالي لار هغه د ایران سرحد ته ورسوي.
زما دغه ټولي یادوني ددي له پاره دي چې تورن صاحب ته ورياد کړم. چې ستاسي دغه له پښتون قوم سره د تعصب تګلاره غلطه او اشتباه ده، او له دغه له برمه ډک، زړور او په ازادي مېن قوم سره تعصب او ناسمه کړنه ستاسي په زیان ده.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

تورن صاحب! بیا هم داسي ورځي په مخکي لرو چي کیدای شي ته ددغه قوم ځوانانو ته اړتیا ولري، ستا دمجبوریت په وخت کي ستادنن ورځي دوستان ستا په درد نه خوري او نه هم په ښه درځي، خو ددغه قوم بچیان په ښه ورځ ستاځخه بې پرواه او په بده ورځ دي په درد خوري او په ښه درځي، دغه قوم په تاریخي لحاظ دا جوته کړي چي په ښه ورځ دي مجلس پري ښایسته کیږي او په بده ورځ دي ملا پري تړل کیږي.
کله چي د ښاغلي کرزي په مشري انتقالي حکومت راغی، او تورن اسماعیل خان بیا ځل د هرات والي شو، لومړنی دښمني یې له پښتون قوم سره راواخیستله، هلته یې پښتانه وتکول، بندیان یې کړل او د پښتنو بانفوذه مشران یې تر تیغ تیر کړل.
زما ښه یاد دي چي د ګرشک د فرقي مشر معلیم میرولي (اوس په پارلمان کي د هلمند ولایت څخه وکیل) ته یوه ډله د کندهار تجاران راغلل او د تورن اسماعیل خان څخه یې شکایت کاوو، چي زموږ مالونه یې په هرات کي ګرځولي دي، کندهار ته یې نه را پریږدي، او په هرات کي داسي چلند راسره کیږي چي ویریږو داسي نه چي په مرموز ډول به موږ پښتانه تجاران د تورن اسماعیل خان د کسانو له خوا څخه  ووژل شو.
داځل د تورن صاحب ځیره بدله شوی وه، په هرات کي له پښتون سره دومره بد چلند کېدی چي ډیری پښتانه هلمند، فراه، کندهار، او نمیروز ته کډه شول. خپلي شتمني او ځمکي یې پریښودي، او دځان ژوندي ساتلو په فکر کي  له هرات څخه ووتلل.
معلیم میرولي ته چي څو ځله بیا هم دکندهار او هلمند سوداګر راغلل او د تورن اسماعیل خان د بد چلند او کندهار او هلمند ته ددوی د مالونو نه راپریښودل یې ورته وویل هغه د هلمند دګرشک د فرقی د مشر په صفت نور شرم ګڼله چي د هلمند او کندهار د سوداګرو مالونه دي د هرات په ګمرک کي بند پاتي وي، او دده دفرقي ترمخ د کندهار-هرات په لویه لار دي د هرات د سوداګرو ډک ټیلرونه تیریږي، چي کله به هم معلیم میرولي د فرقي دروازي څخه ووت او یابه فرقي ته ننوتي نو د هراتیانو په موادو اوسامانو ډک ټیلرونه به یې لیدل.
معلیم میرولي چي په هلمند او هغه سیمه کي په جګړو کولو مشهور دی، د طالبانو سره د جنګ پرمهال یې په شمال او نورو سیمو کي هم شهرت پیداکړی وو، تورن اسماعیل خان دهغه په اړه تر بل هرچا ښه پوهیدی، معلیم میرولي، تورن اسماعیل خان ته احوال واستاوو، او لیک یې ورته ولیږی چي د پښتنو سوداګرو سره بدچلند پای ته ورسوي او دهغوی مالونه ایله کړي، تورن اسماعیل خان د هغه لیک ته  پام ونه کړ او خپل تعصبي چلند ته یې دوام ورکړ.
داځل معلیم میرولي بیا کسان ورته واستول چي له دغه ناوړه چلند او تعصب څخه لاس واخلي، تورن صاحب چي دهرات په ځیر ولایت والي او دشمال ټلوالي پوره ملاتړ یې له ځان سره درلود او په خاص ډول د قسیم فهیم چي د دفاع وزیر وو،او دهغه وخت د شمال ټلوالي د کورنیو چارو وزیر، د معلیم میرولي استازو او لیک ته په ارزښت ورکولو قایل نه وو.
معلیم میرولي مجبور وو چي دکندهار او هلمند سوداګرو ته ځواب ووایي، په تکلیف سره یې تورن اسماعیل خان د مخابري دلاري پیدا کړ او په سټلایټ ټلفون یې  د کندهار او هلمند د سوداګرو د مالونو د بندیدو او له هرات څخه د باندي دوتلو اجازه نه ورکولو خبره ورسره وکړه، تورن اسماعیل خان ډول ډول بهاني کولي، لږ وروسته ددواړه ترمنځ خبره تونده شوه، معلیم صاحب د پښتنو سره د بد چلند خبره هم په تونده لهجه ورته وکړه، او اخطار یې ورکړ که د کندهار او هلمند د سوداګرو مالونه پري نه ږدي، او له پښتنو سره بد چلند ته دوام ورکړي نو ستادقوم او هراتیانو لار هم زما دفرقي مخته تیریږي او ستاسي لار د همیش له پاره زما په ښار (ګرشک) کي تیریږي. زه مجبور یم چي خپلو خلکو ته ځواب ووایم، لاره بندوم، دهراتیانو مالونه، نه پریږدم، او نور ته پوهیږي چي زه به څه وکړم؟
تورن اسماعیل چي د معلیم میرولي دا ډول خطرناکي خبري واوریدلي او دهغه د جنګونو او وژنو او له ملامحمد رسول آخند سره د جنګ کولو کیسي ټولي ورته معلومي وي، مجبور شو چي دخپلو قومیانو او هراتیانو خیال وساتي او پښتنو سوداګرو ته د مالونو وړلو اجازه ورکړي.
تردیري مودي په هرات کي دپښتنو سره دمور او میري چلند کېدی، ددي خبري د ثبوت له پاره ښه داده چي څوک د غوریانو او زنده جان ولسوالي له خلکو څخه  پوښتنه وکړي.
د شینډنډ ولسوالي خلک خو دده ولایت پرمهال او بیا وروسته دده د وزارت پرمهال دومره وتکول شول چي بشپړ کلي پکي له منځه ولاړل. او ګناه یې داوه چي هغوی پښتانه وو.
زه تعصب نه کوم، او تعصب کول حرام او ناروا دي، خو هغه څه چي حقیقت دی باید پټ ونه ساتل شي او د حقیقت ویل او په سم ډول له خپل قوم څخه دفاع کول تعصب نه ګڼم.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ښاغلي تورن صاحب اسماعيل خان ! تاسي له څو کلونو راهيسي د اوبو او بريښنا وزير ياست، هرات ته مو د اوبو او بريښنا په برخه کې په غير پښتنو ميښتو سيمو کې د پام وړ خدمت وکړ، په مزار شريف کې مو ورته خدمت ټولو خلکو ته معلوم دی چې پښتانه بې برخي او ستاسي قوم دي له خدمت څخه برخمن دی.
په کابل کې دي ورته چلند کړی دی، هلته چې پښتانه ډير دي په ۲۰۱۲ کال کې هم بريښنا نه لري، چې جوت او څرګند مثال يې احمدشاه بابا مينه (ارزان قيمت) دي، په تيرو لسو کلونو کې له بريښنا څخه بې برخي وو، دوه کاله وړاندي چې کله تورن صاحب تر ډير فشار لاندي وو، دغي پروژي يې بريښنا ورکړه. خو خيرخانه له دغه نعمت څخه په بشپړ ډول برخمنه وه اوده، دغره په سر کې هم کورنه بريښنالري.
د ننګرهار د ګمبيري پر دښت د کانال ايستلو پروژه او په ننګرهار کې د اوبو د بند او بريښنا د توليد پروژه چې په پلان کې وه او ځينو افغانانو يې په پلان او عملي کيدو کې هڅي کولي، تورن صاحب يې په کلکه مخالفت وکړ، او د پروژي مالک ته وويل شول چې ولي دغه ډول پروژه د هيواد په شمال کې نه پلي کوئ.
د خپل وزارت په ټوله موده کې کندهار ته دتعصب له امله نه ولاړی، هغه ولايت چې په هيواد کې د حکومت په راوستلو او چپه کولو کې اساسي رول لري، هغه ولايت چې تاريخي ارزښت يې په هيواد کې د ټولو ولايتونو په پرتله زيات دی، هغه ولايت چې ډير شهيدان، يتيمان او کونډي لري، هغه ولايت چې هره ورځ يې په کليو او کورونو ستاسي د دوستانو امريکايانو له خوا څخه بمبارد کيږي، هغه ولايت چې اوسني جمهور رئيس ورڅخه راغلی دی، او هغه ولايت چې د طالبانو مرکزيت او ملامحمد عمر اخند پکې اوسيدی، هغه ولايت چې احمد شاه باباه له دغه ځايه فتوحات پيل کړي او هلته اوسيدی، هغه ولايت چې هلته ميرويس خان نيکه اوسيدی، هغه ولايت چې هلته د احمدشاه بابا او ميرويس نيکه روضي دي، هلته چې د عينو ادي قبر دی، هلته چې د زرغوني انا قبر دی، او بلاخره هلته چې دملالي ميوندي قبر دی.
قدمن وزير صاحب! تاسي به خبر نه ياست دغه تاريخي ښار ډيره موده ستاسي دوزارت په وخت کې بريښنا نه درلودله، خو برعکس د طالبانو په وخت کې له بريښنا څخه برخمن وو، تاسي به نه ياست خبر چې دغه ښار اوس په ۲۰۱۲ کال کې هم يوه شپه او ورځ بريښنا نه لري او بله شپه يې لري، خو که ګرمي زياته شي دغه نوبتي بريښنا بيا په ۲۴ ساعتونو کې څو ساعتونه وي او بيا يې مخ څوک نه شي ليدلی.
په ښار کې دغه ډول حالت دی، د ولسواليو او د ښار د نږدي ناحيو په اړه پوښتنه مه کوه؟ هلته خو واړه ماشومان بريښنا پيژني هم نه.
دهلمند ولايت چې په هيواد کې تر ټولو د زياتي بريښنا توليدونکی بند کجکي پکې پروت دي، ستاسي د وزارت په لومړيو کلونو کې دغه ښار (لښکرګاه) هم د بريښنا له نعمت څخه بې برخي وو، کله چې ناټو دنړي په سطحه دلوي کاروان په بدرګه کې هلته د بريښنا دتوليد توربين ورساوو، هغه هم په کاغذونو او کارټنونو کې تر اوسه بند ساتل شوی او اينبودل شوی دی. او هيڅ ډول کار ورڅخه نه دي اخستل شوی.
د لښکرګاه د بريښنا حال هم دا ډول دي چې الله دي د بريښنا رياست او مامورينو ته څوک نه احتياجوي، کله يې لاين شکولی وي، کله يې فيوز کښلی وي، او کله بيا بريښنا د جنکشن څخه بندوي، داچې ولي داکارونه کوي؟ او بيا يې په څه ډول بيرته بريښنا ايله کوي؟ تاسي تر بل هرچا ښه پوهيږئ؟
زموږ دکلي حاجي عبدل هم اوس ځکه خفه دی چې ستا دخلاصون له پاره به يې د شپي تهجد کاوو، او ستاسي دخلاصون دعاوي به يې کولي، هغه له مرکز لښکرګاه څخه ۱۵ کيلو متره ليري د مسجد سره نږدي په يوه خټين کور کې اوسيږي، د طالبانو د بندڅخه ستاسي د خلاصيدو دخبر په اوريدو ځکه خوشحاله وو، چې هغه ويل تورن صاحب ته الله پاک زما دعا قبوله کړه، د اوبو اوبريښنا د وزير په توګه ستاسي پرټاکلو د افغانستان ترټولو خلک هغه ډير خوشحاله وو، هغه فکر کاوو چې تورن صاحب به دکجکي د بند څخه سمه ګټه واخلي او دلښکرڅخه بيا زموږ ترکلي د ظاهر شاه دوخت د بريښنا لکړي به يوځل بيا ورغوي او زموږ مسجد، کور اوکلي ته به بريښنا راولي، داچې ستاسي دحکومت موده مخ په پوره کيدو ده، ستاسي ملاتړي بهرني قوتونه به له هيواده د وتلو لاري سنجوي، او د ډالرو په دي نابرابر باران کې ددوی ترکلي بريښنا ونه رسيده، هغه خواشيني معلوميږي، پردي خفه نه دي چې ولي بريښنا ورته ونه رسيدله، هغه اوس چا پوه کړی دي او دهغه په غوږ کې يې پټ ورته ويلي دي چې حاجي عبدله! ته غلط شوی وي ،تورن صاحب زموږ دوست نه دی، هغه پخواني تورن صاحب نه دی، اوس هغه د ټولو پښتنو سره تعصب کوي، ترڅو چې تورن صاحب وزير وي پښتانه ميښته سيمي به د بريښنا له برکته بې برخي وي. ۲۰۱۳/۰٦/١٤



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ